PROPERTY OF ACKU

DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال ششم شماره ۷۱
شماره مسلسل ۹۳۸
دوشنبه اول حوت ۱۳۸۴ هـ ش
۲۱ محرم الحرام ۱۴۲۷ هـ ق
20 February, 2006

یکی از نقیصه هـای کمیسیون های کاری درولسی جرکه عـدم راه یابی اشخاص شایسته به کمیسیون ها میباشد

محمد یونس قانونی رئیس ولسی جرگه یکی از نقیصه های کمیسیون های کاری را درولسی جرگه عدم راه یابی اشخاص شایسته به این کمیسیونها خواند. آقای قانونی میگوید که انتخاب اعضای کمیسیون ها درفضای آزاد و دموکراتیک صورت گرفته است اما شماری افراد متخصص ازین انتخابات بازمانده اند. ایجاد وساختار کمیسیون های کاری ولسی جرگه مورد انتقاد شماری ازنماینده گان قرار گرفت قبلاً گفته شده بود که هر نماینده براساس شایسته گی وتخصص درکمیسیون ها انتخاب خواهند شد اما اکنون گفته میشود که درانتخاب اعضای این کمیسیون ها تنها سمت گرایی وارتباطات قومی درنظر گرفته شده است. درهمین حال نماینده گان ولسی جرگه میگویند که هیئت پارلمان که بارئیس جمهور کشور به پاکستان سفر کرده بود مورد توهین وتحقیر قرار گرفته اند.

د ولسي جرګې د لسو کمیسیونو منشیان اومرستیالان وټاکل شول

د ولسي جرګې د لسو کمیسیونومنشیان او مرستیالان پرون اعلان شول د پاتو اتو کمیسیونونومنشیان او مرستیالان به له رای اچونې وروسته وټاکل شي خو دولسي جرګې یو شمیر غړیو بیا د کمیسیونونو د جوړښت په اړه خپل مخالفت بنودلې او نیوکې یې کړې چې کمیسیونونه د قومي سمتي او ګوندې اړیکو له مخې جوړ شوی نه د تخصص او مسلکي وړتیا پر بنسټ.

۴مخ

قاض حسین احمد او مولانا فضل الرحمن نیول شوي

په پاکستان کې د متحده عمل دوه لوړ پوړي چارواکي.

۴مخ

له غلو سره په نښته کې یو پولیس مړاو دوه تپیان

د حبیب بانک د خصوصي بانکې یو موټر پرون د وسله والو غلو له خوا د کابل ښار د شیر پور په سیمه کې تر ډزې لاندې ونیول شو په دې پیښه کې دبانک یو سرتیري وژل شوی او دوه نور ژوبل شوی دی دغه راز د بانک اړوند دری لکه او شل زره امریکایي ډالره د غلو له خوا وړل شوی دی. په کابل کې د حبیب بانک یو چارواکي انیس الحسین کاظمي د پیښې په اړه وویل چې د یکشنبې په ورځ له غرمې وروسته د یوې نیمې بجې په شا وخوا کې زمونږ د بانک یو موټر چې ددغه بانک له مرکزي خزانګې څخه دری لکه شل زره امریکایي ډالره د استرداد چاریت بانک ته چې په وزیر اکبر خان کې موقعیت لري لیږدول چې په لاره کې د یو شمیر وسله والو غلو له خوا چې پولیسي جامې یې په تن وې او په یو سپین رنګه کرولا ډوله موټر کې ناست وو تر وسله والو برید لاندې ونیول شو.

۴مخ

ادعا وزیر داخله پاکستان

وزیر داخله پاکستان از دولت افغانستان خواسته است تا جلو قاچاق اسلحه را به ایالت بلوچستان بگیرد. وی با تاکید این مطلب میگوید که شماری از شهروندان پاکستان درافغانستان بازداشت شده اند اما از آمار دقیق این زندانیان اظهار بی اطلاعی کرد. اظهارات آفتاب احمد شیرپاو پس از آن صورت میگیرد که حامد کرزی رئیس جمهوری کشور درسفرش به پاکستان این اتهام را رد کرده بود که گویا افغانستان درامور بلوچستان دخالت مینماید

ص۴

کشف گور دسته جمعی در شمال شرق کشور

گزارش های رسیده از ولایت بدخشان در شمال شرق کشورحاکیست که یک 'گور دسته جمعی' در دشت قروغ، واقع در ناحیه ششم شهر فیض آباد، مرکز ولایت بدخشان کشف شده است. تا حالا شش جسد از این گور بدست آمده که به گفته شاهدان عینی، همه از باشندگان غیرنظامی ولسوالی جرم ولایت بدخشان بوده اند. دشت قروغ، محل تحت رهبری یک قوماندان سابق بود که به گفته مردم محل، در زمان حکومت مجاهدین چندین ماه را به اتهام دست داشتن در اعمال جنایی، در زندان بسر برده است.

ص۴

سرمقاله

افغانستان دست دوستی پیش میکند، پاکستان اتهام میبافد

اظهارات دیروز شیرپاو مبنی بر ارسال سلاح از افغانستان به بلوچستان نتایج مذاکرات افغانستان را جداً خدشه پذیر میسازد.

دیدار رئیس جمهوری افغانستان از پاکستان درزمانی صورت گرفت که اوضاع به شکل ناخواسته یی هم درمناطق جنوب شرق افغانستان وهم دربلوچستان روز تاروز بحرانی تر میشود.

حملات تروریستی القاعده وشرکاء نه تنها کاهش نخواهد یافت، بلکه امکان افزایش آن ناگزیر والزامی به نظر میرسد.

ازسوی دیگر بلوچستان که به وسیله مقامات اسلام آباد به دلایل خاص متشنج ساخته شده، بهانه یی است برای اقناع افکار عامه وائتلاف بین المللی مستقر درافغانستان.

هرچند سفر رئیس جمهوری افغانستان به منظور رفع غایله ودفع الوقت صورت گرفته ، با اینهمه از حسن نیت جانب افغانستان مایه میگیرد.

اما ازآنجا که راه موش همیشه به آسیاب موجود است، این انتظار میرفت که حکومت پاکستان دیر یا زود، نسبت به دستآوردهای این سفر واکنش نشان بدهد، وآنرا سبوتاژ کند.

باوجود آنکه آقای کرزی ارسال سلاح به بلوچستان را جداً رد کرد، اما مرغ پاکستان بازهم همان یک لنگ را دارد که درگذشته ودرتمامی عمر پنجاه وهشت ساله‌ء خود داشته است.

اظهارات وزیر خارجه پاکستان یکی از مهمترین مقامات سیاستگزار این کشور، که افغانستان را به ارسال سلاح به پاکستان متهم میسازد که درواقع گفته های والی صوبه بلوچستان را دوباره نشخوار میکند، درست یکروز پس ازمواصلت هیأت افغانی به کابل آشکار میشود. مسی که ازپیش نمایان بود، نمایانتر شد. این درحالی است که افغانستان دست دوستی پیش میکند. پاکستان روی می گرداند. کاری که جز آب خت کردن مبنایی ندارد.

اکنون جای آن دارد که آقای کرزی طرح های دیگری را که درپیاناتش ابراز داشته بود، به پیش کشد ، زیرا ممکنست همین گفته ها که بردستگاه قدرت پاکستان گرانی کرده باشد!

یادآور میشویم که وزیرستان به مثابه‌ء یگانه منطقه‌ء تشنج آفرین برای افغانستان ونیز برای پاکستان تلقی میشود.

این منطقه که بخشی از قلمرو جدا شده ازپیکر افغانستان است، اگر دیروز یعنی نیم قرن پیش به وسیله استعمار انگلیس ساحه‌ء مورد منازعه افغانستان وپاکستان قرار گرفت، حالا بعد از نیم قرن واندی منطقه یی است ، متنازع فیه بین پاکستان ، افغانستان ، بن لادن وائتلاف بین المللی امریکا.

چرا که این منطقه منافع ملی' چندین کشور را به مخاطره افگنده است: افغانستان درآنجا نفوذ ندارد، ولی اسامه بن لادن آنجا را نود ونه ساله اجاره گرفته است ، واز تطمیع سران قبایل تا تولید وفروش انواع سلاح وفعالیت شبکه های مافیایی افراطیت عرب وکشور های دیگر وقاچاق مواد مخدر وهمچنان تنظیم وسرپرستی دهها کارخانه تروریست پرور وطالب ساز به چنان فعالیتهایی اشتغال دارد که درهر لحظه برای تمامی کره‌ء زمین دغدغه آفرین شده است .

بن لادن این سلطان بی رقیب ظاهراً باپترو دالر عرب وپول قاچاق مواد مخد ه برقلمرو مفتوحه اش وزیرستان حکمرانی میکند . اما درواقع امپراتو ر بن لادن بیست ویکم است که میتواند کاخ سفید را با انتشار چند کلمه‌سي چی دریک کست آنهم از تلویزیون الجزیره ، به لرزه وه کمر رد ودستپاچه سازد.

ص۴

په چاودنه کې یو کس ووژل شو

تیره ورځ مازدیګر مهال د جلال آباد - تورخم په لویه لاره کې د یوی چاودنې له امله یو کس ووژل شو د ننګرهار ولایت د امنیي قوماندانی ویاند عبد الغفور ویلي دي چې په دغه پیښه کې یوازې د وژل شوی کس پښه دوی ته په لاس ورغلې ده او نه پوهیږي چې چاودنه ځان مرګي برید و او که نه. بلې خوا ته تیره ورځ د ننګرهار کنړ د لویې لارې ساتونکو پولیسو د ډزو له امله دوه تنه عام وګړی تپیان شوی دي. په خبر کې ویل شوی چې پیښه هغه مهال رامنځته شوه کله چې د بهسودو د ولسوالی په اړونده سیمو کې د پولیسو او سپرلیو تر منځه شخړه وشوه پولیسو ډزې وکړې او په موټر کې یې دوه تنه تپیان کړل د ننګرهار ولایت امنیتي چارواکو څرګنده کړې ده چې د ډزو له امله یې له پولیسو څخه پوښتنې ګرویګنې پیل کړې دی.

خرابی راه ماهیپر بازهم سبب حـوادث دلخراش گردید

درنتیجه واژگون شدن دو موتر در دوحادثه جداگانه در بند ماهیپر ونغلو دوتن جان هایشان را از دست دادند ویک تن دیگر جراحت برداشته است آمر بررسی حادثات ترافیکی میگوید که این حادثات به علت بی خبری رانندگان از قوانین ترافیکی، خرابی جاده ها وموجودیت زیاد وسایط نقلیه رخ میدهند. حادثه زمانی به وقوع پیوست که یک موتر باربری حامل پوست مواشی بدلیل بار زیاد واژگون شد وسه موتر دیگر را نیز تخریب نمود.

آمر تنظیم ترافیک کابل تورخم میگوید دراین حادثه یک تن کشته شده ویک تن دیگر جراحت برداشته است .

آمار نشان میدهد که درجریان یک ماه گذشته د رکابل بیش از ۳۸ حادثه ترافیکی به وقوع پیوسته است که به گفته آمر بررسی حادثات ترافیکی درین حادثهها ده تن جان های شان را از دست داده اند و۵۲ تن دیگر جراحت برداشتند.

عنقریب تعداد عساکر کانادایی وسویدنی درکشور اضافه خواهد شد



هشتادوهفت سرباز کانادایی دیروز آنکشور را به قصد مستقر شدن در مناطق جنوبی افغانستان ترک گفتند هم چنان سویدن نیز تصمیم دارد تا ۴۰۰ تن از سربازانش را به افغانستان بفرستد استیفن هارپن صدراعظم کانادا در نظر دارد تا درنخستین سفرش به افغانستان ازپایگاه نیروهای کانادایی درولایت کندهار دیدن نماید.کانادا درحال حاضر ۹۰۰ سرباز شامل نیروهای کمک به امنیت درافغانستان دارد این سربازان درحال حاضر درمناطق جنوبی مستقر میباشندکه حملات بمب گذاری شورشیان مخالف دولت سبب مجروح شدن شماری از سربازان کانادایی درکشور شده است گفته میشود در جمع این سربازان کسانی وجود دارند که سن شان به ۱۸ سال میرسد بر مبنای یک خبر دیگر سویدن از فرستادن ۴۰۰ تن از سرابازانش به افغانستان خبر داده است گفته میشود این سربازان درچوکات تیم بازسازی ولایتی یا پی. آر. تی درکشور فعالیت خواهند کرد.

هیڅوک نه پوهیږو دمخابراتو ،پوستي خدماتو او برېښنا په هکله کار کمزوری روان دی په پنځو کلو کي دولایاتو او ولسوالیو تر منځ نشي لیږل کیدای شپېته کاله پخوا داکار دسړیو پواسطه تر سره کیده چې ډاګي یا پوسته رسان یي ورته وایه ، اوس چې هر څه شته افغانستان داولسمې پیړۍ د شرایطو پشان ستونزې لري، دوي پدي خوش دي چې په لنډه موده کې په افغانستان کې له موبیل تلیفون نه داستفادي کچه لوړه تللي ده ،کله یو هیواد او کله بل هیواد مثال راوړي، مګر داحقیقت نه روښانه کوي چې په هیوادکي ددولت لخوا هیڅ ثابت مخابراتي سیستم نشته ځکه خلک مجبور دي دخپلو ورځنیو ستونزو دحل پخاطر موبیل تلیفون استعمال کړي نږدې پنځه کاله کیږي چې په میلیونو ډالره ددو کمپنیو (روشن او افغان بیسیم ترلاسه کړې ،جالبه لاداده چې ویل کیږي په یو شمیر ولایاتوکې تر څو دولتي چګپوړ کسان خپله برخه ونلري همدغو کمپنیو ته هم دفعالیت اجازه نه ورکول کیږي ،داسي ولایتونه شته چې تر اوسه دهمدغو گران قیمته مخابراتي اسانتیا وڅخه محروم پاته دي زه دا نه وایم چې هیڅ ندي شوې اویادي په یوه ورځ هر څه جوړ شي، ولې هر باوجدانه افغان چې سر خپل گریوان ته ټیټ کړي دغې پوښتنې ته به مکمل جواب پیدا نکړي چې دټولو ملي او نړیوالوپیغورونو ،ستونزو دزغملو سره سره دبهرنیانوراپېرل شوي دامیلیارډونه ډالر پر کومه ولاړل ؟ چاوخوړل ؟ کومه بنیادي ګټه یي خلکو ته ورسېده ؟ ځیني چارواکي داوایي چې ((۷۸)) په سلو کې دایپسي انجوګانو ته ورکول کېدې او دهغوي له لارې لګښت تر سره کېده هغوي پیسې وخوړلي او هیڅ کار یي ونکړ ؛لومړي باید داڅرګنده شي ددغو انجوګانو چې شمیر یې تر دوو زرو اوښتی و((۸۰)) په سلوکې دافغانانو لخوا اداره کېدې ،دااداره کوونکې هغه کسان وه چې ددولتي چګپوړو چارواکوسره یې په ډول ډډولونوراپېرکې درلودې او دهغوي لخواحمایه کېدل ؛ښه بیلګه یې کله چې رمضان بشردوست لخوا د((۲۰۰۰)) داسي انجوګانو دتړو او دهغوي څخه دقانوني بازخواست وړاندیز وشو هغه بیچاره له هرې خوا ورټل شو او دوړاندیزپه مقابل کې ېې دولسمشر په ګډون ټولو مخالفت وکړ همدالحظه چې دا لیکنه لیکم دبي بي سي پر پښتو پاڼه راښکاره شول چې د افغانستان د اقتصاد وزیر محمد امین فرهنګ اعلان وکړ څه باندې ۱۲۰۰ هغه غیر حکومتي سازمانونه یا ان جي او ګاني چې د نوو حکومتي مقرراتو له مخې ېې څانونه راجستر یا ثبت کړي ندي نور د فعالیت حق نلري .ښاغلي فرهنګ وویل د ۱۲۲۰ دغو ان جي او ګانو له جملې څخه ۱۴۹۷ افغاني او ۱۲۳ بې بهرنۍ دي حکومت وایي چې لدې نه پس به د ټولو ان جي او ګانو کارونه څاري او که درغلی ومونډل شي قانوني چلند به ورسره وشي هغه وویل چې د منحل شوو ان جي او ګانو د فعالیت په اړه به هم پلټنې وشي او حتی نړیوالو مرستندویانو سره به هم تماسونه ونیول شي او معلومات به ترلاسه شي چې کوم غیر حکومتي سازمان له پیسو څخه ناوړه کار اخیستنه کړي وي د قانون له مخې به سزا ورکړل شي



داسي څرګندیږي چې درمضان بشر دوست ږغ نړیوالو واورېد ،او نور دنړیوالو لپاره هم دتحمل ورنه ده چې په ملیاردو ډالر دانجوګانو له لارې پر عبثو لارو مصرف شي ،هرومرو به دلندن په کنفرانس کې دغې مسلې ته اساسي ګوت نیونه او ګوت څنډنه شوې وي،چې دومره ژر دولتي اړونده چارواکو دانجوګانو په مقابل کې غبرګون ښکاره کړ اوس هم ناوخته نه دی که چیرې دانجوګانو دکار کنترول دملي ګټود درناوی او په نظر کې نیولو په روحیه تر سره شي پایلې به یي ګټوري وي،پرېږده چې لږانجوګاني وي ولې دکار ثمره او کیفیت یي باید ددولت لخوا وارزول شي که دایاهغه انجو په افغانستان کې ددغه هیواد دخلکو لپار خدمت کوي داهم باید ومنې چې ددغه هیواد اړونده دولتي اداري حق لري تر څوپه منظم ډول ددوې کارکنترول کړي

((دکابل پوهنتون استاد غلام نبي فراهي وایي دافغانستان وبیارغاونې په سلګونو میلونه ډالرهغو سلاکارانو وړې چې بیلا بیلو برخوکې دبیا رغاونې امکان نلري چې پدغه برخه کې دې افغان زلمي وروزل شي ؟ رښتیا خبره خوداده چې تر اوسه په دا پنځو کلو کې پدغه ریشته کې دروزلو لپاره یو نفر هم ندي تر بیه شوی ،تر څو به مور دبل له خیرات یا پور څخه داسي لوړ تنخواګاني بهرنیو کارپوهانو ته ورکوو ؟

دوهم / که داټول کارونه چې پورته یي نومونه واخیستل شوه دکلیو دپراختیا وزارت تر سره کوي ؟ په هغه صورت کې ښاغلی کرزی باید نور خلک دمقامونو په تر لاسه کولو خوشحاله نکړي اونه هغوي ته دلوړو تنخواګانو په ورکولوافغان ولس دبهرنیانو پوروړی کړي ،یوا زي همدا وزارت کولای شي ټول کارونه تر سره کړي په تیرو رژیمو کې هم دروغتیا ښوونې او روزنې دفواعد عامې وزارت ،دکرهنې وزارت موجود وه ،هر وزارت په خپله برخه کې خپل کارونه خپله سرته رسول ،دبهلګې په توګه که به دښوونځي یا روغتون جوړېدو ته اړتیاوه همدغو وزارتو به دکوم تعمیراتي شرکت سره قرار داد کاوه ،ټول مصارف دمربوطه وزارت لخوا تر سره کېدل، باید په ټول هیواد کې وسله ټوله شي ددغې دندې دسرته رسولو لپاره دجاپان هیواد دمالي ،مادي او تخنیکي مرستو درسولو دنده پر غاړه واخیستل دبې وسلې کولو او وسله والوکسان ملکي ژوندته درابللو کار پیل کړ.

د ۲۰۰۵ کال دجون دمیاشتي په ورستیو ورځو کې دجاپان سفیر په افغانستان کې دبې وسلې کولو دلومړي پړاو دپاي ته رسېدو خبر ورکړ ،هغه وویل تر اوسه په افغانستان کې دعمومي بې وسلې کولو لپاره ۱۵۰ میلیونه ډالره په مصرف رسېدلې دي .

2005.30.06آریایي ویب پاڼه

دبې وسلې کولوپه لومړۍ مرحله کې دپه سلهاوزره میله ډول ډول سپکو او درنو وسلو دراټولواوپه لسهاو زره وسله والوکسانو ته دسوله ایز ژوند دبرابرولو خبرونه یو په بل پسي خپرېدل اوس یې ددوهمي مرحلې بحث روان دی ،مګر اوس چې ګورو بینا هره ورځ دلته یا هلته دوسلو ډیپوګان پیداکیږي ،سپکې اودرنې وسلې نیول کېږي ،تر ټولو غوره لاداچې تر اوسه جنګسالار او محلي قوماندان تر غاښو په وسلو بار ارام او مطمین ژوند کوي که څوک دهغه سیاسي یا اقتصادي ګټوته خطر ورسوي خوله یي ورباندې ماتوي خکه سوال پیدا کیږي کومه وسله اوله چانه ټوله شوه ؟ دخلکو هغه خبره چې وروره قوماندانانو خپله هغه زړه او دکاره لوبدلې وسله دډې ډي آر دپروګرام پر پلې کولو په ډالر خرڅه کړه اونوره هغه وسله چې ورباندې ډزې کیدای شي پر خپل خاي پاته ده .دبیلګې په توګه دبې وسلې کولو دپروګرام یو مسؤل چارواکي دبي بي سي سره په مرکه کې څرګندوي :پدغه ورستیو څو میاشتو کې څه باندې((۲۱)) زره میله وسلې راټولې شوي چې په زرګونو میله ېې د ېو شمېر هغو کاندیدانو څخه دي چې په تېرو پارلماني ټاکنو کې ېې ګډون درلوده DDR یا وسلو د راټولولو د پروګرام چارواکئ جنرال عبدالمنان فراهي وایي دهغو قوماندانانو نوم لړ برابر شوئ چې په دولت کې کار کوي اووسلې لري چې په نږدې راتلونکي کې به ېې دوسلو سپارل پیل شي د ی وایي په لومړي سرکې له ۱۴۰ کاندیدانو نه څه باندې دخلور زره میله وسله راټوله شوه او تر هغه وروسته نهه هغو قوماندانانو په خپله خوښه وسله وسپارله چې په دولت کې ېې کارکاوه دې وایي له ۴۰ تر ۵۰ نوردامنیي قوماندانانو اوریسانو په کچه داسي کسان په دولت کې شته چې وسله لري خو جنرال فراهي وایي په دې پروګرام کې به ټول غیر مسول وسله درلودونکي بې وسلې شي، اودولت د ټولوپه اړه پوره معلومات لري چې کوم کس څومره وسله لري جنرال فراهي زیاتوي د هغو کسانو پېژندنه شوې چې په ولاياتو کې غیر مسول دي او وسلې لري د بې وسلې کولودپروګرام چار واکي وایي په دقیق ډول نه پوهېږي چې په ټول افغانستا ن کې به څومره وسلې وي خو وایي پروګرام به تر هغو روان وي چې ټولې وسلې دولت ته وسپارل شي ۲۸، ۲۰۰۵ نومبر داپدي معني چې په هیواد کې دمرکزي حکومت دکمزورۍ او په دولتي واک کې دهمدغو رنګا رنګ وسلو دخاوندانو غوښې او کوتلې خاي دبې وسلې کولو پروسه له خنډ اوناکامي سره مخامخ کړیده همدا دلیل دی چې دکابل په ښارکې هم څوک خان په امنیت کې نه احساسوي

پای

په یوه وروسته پاتې ټولنه کې د فعالی زده کړې په مخکې خنډ نه شته؟

نادر

نن سبا نړۍ دخپلو ساینسي او تکنالوژیکي پرمختیاوو پر بنسټ د حیرانۍ وړ پرمختګونو، کشفونو او اختراع ګانو د انساني ژوندانه د هر اړخیزې سوکالۍ او ارامۍ په برخه کې زیاتې بریاوې رامنځته کړې دي ددې پرمختګونو مستقیم تناسب د ټولنې اوروزنې له پرمختیا سره بلل کیږي ځکه چې په داسې ټولنو کې تر هر څه زیات د تعلیمي سیستم د پرمختیا او پراختیا په برخه کې له نړیوالو علمي او منل شوو تعلیمي معیارونو څخه ګټه اخیستل شوی داسې ټولنو خپل تعلیمي سیستمونه له زړو دودیزو تدریسي چوکاټونو څخه ایستلې او د فعالی زده کړې په لوری یې اړولی دی خکه چې په دې زده کړه کې د معلم محوری له محدود او تنګ چوکاټ څخه د شاګرد محوری خواته حرکت کوي خو د مخه تر دې چې داسې ټولنو د شاګرد محوری په لوری حرکت کولو د زده کړې د خلورو فکتورونو د ښېړولو لپاره یې په لومړی ګام کې حرکت کړی دی د ښېړې او مالمی زده کړې لپاره د ټبوونکي. درسي موادو خای او وخت خلورو فکتورونه مثبتي نتیجې په پام کې نیولی که چیرې په دې خلورو کې یو یې وجود ونه لري زده کړه صورت نیسي.

په مختلفو هیوادونو کې یې د خای وخت او درسي وسایلو د برابرولو تر څنګ د معلم یا ټبوونکي لپاره پاملرنه کړي او معلم یې د معلم محوری له تنګ چوکاټ څخه دشاګرد محوری په لوری هڅولی دی چې له دې لارې وکړای شي پخپله شاګرد په کار واچول شي او خپله شاګرد په فعالیت کې ونډه واخلي.

باید ووایو چې د معلم محوری دود یا رواجي تدریس اوس مهال په نړۍ کې له منځه تلونکی دی او دغه وچ کلک دود یوازې په وروسته پاتې هیوادونو کې موجود دی اوس هم د نړۍ په هغو هیوادونو کې چې په تعلیمي فرهنګي او اقتصادي لحاظ وروسته پاتې دی له فعالی زده کړې او وروسته پاتې دی او ټول لوستونه یې په رواجي تدریس روان دی خکه چې د اقتصادي ستونزو له املې هغوی که څه هم د فعالی زده کړې سیستم به یې خوښ وي او علاقه مندي به ورسره ولري خو د فعالی زده کړې لپاره شرایط نشي برابرولی.

بر خلاف په هغو ټولنو کې چې د ژوندانه له سوکالۍ سره مخامخ دي اقتصاد یې پر مخ تللی دی هغوی نن سبا د زده کړې سیستم بدل کړی دی د فعالی زده کړې سیستم په کې کارول کیږي خکه چې په دې سیستم کې یې مثبته نتیجه ورکړې ده او شاګرد محوری یې عامه کړې ده په شاګرد محوری کې کولای شي یو شاګرد په ترتیب سره په او مهارت ترلاسه او په ذهنیت کې یې مثبت بدلونونه رامنځته کړي

شي چې اصلاً له وروستیو دوو پرته یوازې پوهیدل د زده کوونکي د ژوندانه په ټولو اړخونو کې په درد نه خوړل کیږي.

زمونږ ټولنه چې اوس غواړي د وروسته پاتې والو له پنجو څخه خان خلاص کړي غواړي چې په خپلو تعلیمي مرکزونو کې استادان دیته وهڅوي چې د زده کړې دری مهم سیستم د پرمختیا او پراختیا په فکتورونه سرته ورسوي چې هغه له پوهیدلو، مهارت اوذهني بدلون څخه عبارت دی پدې ډول غواړي ټبوونکي دی ته تیار کړي چې زده کوونکي په ترتیب سره له پوهیدلو وروسته د مهارت په لوری ګام واخلي او و رسره یې په ذهن کې کافي بدلونونه د خان او ټولنې په ګټه رامنځته شي دغو دری واړو پواسطه یو شاګرد کولای شي چې له خپلو ټبوونکي خپل خان په کار واچوي فعالیت زیات کړي او په خپل خان کې بدلونونه رامنځته کړي.

بیلګې په توګه بو رده کوونکی ته یوازې د لمانځه د اوداسه کولو حرکات ټبیونو شاګرد پدې برخه کې پوهه واخیسته خو که چیرې عملاً اودس وکړ نو ویلای شو چې د مهارت برخه یې اجراء کړه دغه راز که چیرې د یو شاګرد په ذهنیت کې مثبت بدلونونه رامنځته شي نو ویلای شو چې دری واړه عنصره یې بشپړ شول خو د شاګرد محوری د اصولو په برخه کې داسې پوښتنې هم رامنځته کیږي چې ایا دیوې وروسته پاتې ټولنې لپاره چې درسي وسایل وجود ونه لري یا کم وی د خان او وخت ستونزې موجود وی دشاګردانو شمیر په ټولګي کې د نړۍ والو معیارونو خلاف په لس ګونه تنه وي.

د درس په وخت کې له څوکیو برسیره په میزونو ناست وي درسي وسایل درک ونه لري د شاګرد چاپیریال فرهنګي شوی نه وی د شاګرد تربیتي خوا لا په منفي حالت کې وي د شاګرد د کمی لحاظ وروسته پاتی دی له فعالی زده کړې سره مخامخ کیږي او شاګرد محوری یې د ټبوونکي له خوا د ټبوونکي درناوي او دفاع نه وی ټبوونکی ونشي کړای خپل حیثیت و ساتلی شي د تعلیم لایحه د وخت په پرونیو شرایطو پورې اړه ولري ایا ټبوونکي کولای شي چې د زده کړې له دودیز حالت څخه د فعالی زده کړې خواته ګام واخلي ؟

د لیکونکی په نظر د فعالی زده کړې لپاره تر هرڅه لومړی ضروری ده چې د شاګرد تربیتي خواته ان تر تعلیمي برتری ورکړل شي د رسي وسایلو خای او وخت تیار شي او وروسته ټبوونکي د تدریس له دودیز رواجي سیستم څخه د فعالی زده کړې خواته په حرکت کې بریاوې تر لاسه او یوه وروسته پاتې ټولنه له نزو څخه ووځي.

په ننګرهار کې خپل سرو کرایو نرخونه لوړ کړي دي!!

اشرف

د نرخو لوړوالی خو نن سبا د هیواد په هره برخه کې موجود دي او د خلکو په اوږو یې درونـد بار رامنحتـه کړی دی خـو د ننګرهـار په ولایت کې دا ستونزه د هیـواد تـر نـورو سـیمو زیاتـه محسـوس ده ننګرهار یو سرحدي ولایـت دی چې لـه پیښـو سره لږ واټن لـري او دغـه راز د قبایلي سیمو شته والـی ددې زمینـه برابره کړی ده چې د پاکستان د تولیداتو لپاره په ننګرهـار کې یـو ښـه بـازار جوړوي، خو سره له دې چې د اموالو په راوړلو زیات لګښت نه راځي خو نرخونه یې زیات لوړ دي. د ننګرهـار په جـلال آبـاد کې دچپلکـو دکانـدارانو د اتحادي مشر الحاج میر احمد وایي:

کـه چیـرې لـه مونـږ سـره د جـلال آبـاد ښـار والـی مرسـته وکـړي او مونـږ په غیـر کې ونیسي نو هم به ښاروالی په پښـو ودریـږي او هم بـه مونـږ او هـم بـه عـوام دا ګټمـی محسـوس کـړي، اوس مونـږ د جـلال آباد دکانداران دوه ډولـه قـرار دادونـه لـرو یـو هغـه چې ښاروالی پرې خبره ده پـه هغـې کـې کرایـي کمـی دی او دولـت تـه یـې ګټمـه کمه رسیږي.

بل هغـه قرار دادونـه دی چـې مونـږ لـه مالکـانو سـره کـړی دی پـه هغـو کـې کرایې لـوړی دی دا کار لـه ښاروالی پټ دی، دا کـار ځکـه کـوو چـې ښـاروالی زمـوږ دفـاع نشـي کولی مالك هر وخت کـولای شـي مونـږ لـه دکان څخه پدې پلمه وباسـي چـې کرایـه دي کمـه ده. مونـږ ورکوي مونږ مجبور یو چې ویي نیسو او زور لـه غریـب څخـه وباسـو دا کـار او ستونزې هغـه وخـت حلیږي چې یو مالك تـه درنـه سزا ورکړي او نور به وورېږي او د دکـانو مالـك بـی صلاحیته شـي مونـږ څخه ویریږو کـه څـه ووایـو حکومـت مـو دفـاع نشـي کـولای بیـا بـه د سـرك پـه غـاړه ناسـت اوسـو داد دکانـدارانو ستونزې دي چې د څـه د پاسـه څلـور کلونـو پـه اوږدو کـې دغـه سـتونزې نـه حلیږي.

نـور الله چـې لـه خوګیانو څخه جلال آباد ښار ته په سود پسـې راغلـی دی وایـي: اور وریـږي اور خـدای دی باچاهي په واړوي دا اسلام دی؟ قسم دی که په کفر کې داسې بـی انصـافي او قیمتـي وي نـه کـار شـته نـه کسـب کوکنار یې بند کړل خو دملت نه ناخبره دي چې دا خلك په څه کار کوي څه به خوري خلك خپله د یتـه مجبـوروي چې غـلا وکـړي لاری ووهـي رشـوتونه واخلي او ددولت په ضـد هـر څـه وکـړي هغه وایي:

زه دیتـه حیـران یـم چې دا مشران په څه فکـر کـی دی اولـس ته په څه نظر ګوري بیا یې ترخه شانتې خندا په شوندو کې ښکـاره شـي وایـي خدای دی بیا داسې وخـت راولـي چـې مونـږ ورتـه ګورو او دوی تبنتـي او دا پلازې تري پاتی شي او دا کورونه.

همداسې وخت پری راغلی و چې یو به وژل کیدو او لس به تبنتیـدل چـې حـق راشـي باطـل بـه خامخا له منځه ځي زمونږ غم سره نشته، نور راځخه روان شو وایـي څـه وروره خـدای دی مـل شـه عکس مې مه اخله څه مې زړه راسپړی دانـی وربانـدي ختلي دي کومه یوه خطا به یې ژاړم.

د جلال آباد په ښار کـې الحـاج نـور حضرت چې خپله د ننګرهـار د پوهنتـون د روغتـون د وینې په بانك کې دنده او شخصي معاینه لري وایي:

ووره اوبـه لـه پاسـه خړي دي کـه مشران قانون تطبیـق کـړي کښته څوك څه نشي کولای کرایـي لـوړی دی مـواد قیمتـه دي، قیمتي اوج کې روانه ده.

په خندا کې وایي

الحاج تور حضرتی

چې د خلکـو پـه غوښـو خولـه نـه لګوي دا هم کمه ده پدې معاشونو د چا ګذاره کیږي د هیچا نـه کیـږي دولـت د اوښ پـه شـا سـپور ویـده دی خلـك تبـاه شـول هـیڅ هـیڅ دخلکـو ژوندانـه تـه توجـه نشـته پـه روغتـون کـې بـه مـریض چیغې وهـي باور وکی که په چا کې دا احساس وي چې راپورتـه شـي او هغـه مـریض معاینـه شـي د شـپی بـه یـوازې پـه داکتـر پسـې ګـرزي او مریض بـه نـا طاقتـه وي ای وروه څـه درته ووایم.

بس هرڅوك په ظلم او نـاروا کـې روان دی تـر هغـه چـې قـانون رامنځتـه او تطبیـق نشـي او تـر هغه چې مشران پاك نشـي دا حالـت بـه روان وي هرڅـوك بـه تـر خپلـه تـوان پـورې د خپـل جیـب پـه ډکولـو بوخـت وي مونـږ خـو دادی پـه معاینـه خانـه کـې د خلکـو لـه جیبـو پیسې راوباسي هغه چې عایـد نـه لـري هغه به څه کوي راته وایي: خو کله چې له مـا پوښتنـه کـوي پـه ځـواب کـې ورتـه وایم:

هغوی بـه غـلا کـوي نـور بـه څـه کـوي او رشـوت بـه اخلـي اختلاس به کوي.

راتـه پـه خنـدا کـې وایي:

بس اوس دی خلاصه کړه.

په همدغـه ښار کـي د مولا جان په نوم د راډیـو، ټیپونـو، او تلویزیونـو مسـتري چې کابو ۵۵ کلونـو زیـات عمـر لـري



مستری مولا جان

وایي: له اجازې پرته به یې سایبه داسې دولـت استلي نشي هغه هم دی چې د غریب غم ورسـره نشـته دغـه وړوکی دکان خو ته ویني پروسې کال یې کرایـه ۱۵۰۰ افغانـی وه سږکال یې رابانـدي ۳۰۰۰ افغانـی کـړه ښاروالی تـرې خبره ده زه فکر کـوم چې له هغوی سره به هم څه ارتباط مالکـان ولـري، لایحـه نشـته دی درنـو کرایـو تـه مو وسه نه کیږي.

زمـوږ څخه پیشکي کرایي اخلي او خپل کاروبـار وربانـدې کـوي او لـوړه کرایـه هم رابانـدې ټاکي او مـوږ مجبـور یـو چې زور یـې لـه خلکـو وباسـو، کـه جګـه کرایـه ورنـه کـړو لـه دکـانونو څخـه مـو باسي.

هغـه پخوانـی ښاروال یـوه ژمنـه کـړی وه چې زه بـه ښـاروالی، ولایـت قوماندانـی، ځارنوالی امنیت او دښـار د صـنونو د استازو په ګډون یو هیئت جوړ کړم نوی کرایـي بـه وټاکو د مالـك صـلاحیت بـه ختم شـي د ښاروالی

استاد شیرین دل غریبیار

لاړ بـل راغـې بـل راغـی او اوس څـوك بـل ښـاروال راغلـی دی خـو زه داسـې فکـر کـوم چـې هیڅـوك ددې خلکـو غـم نـه خـوري د هغـه تـر څنګ شـریندل غریبیـار چـې د ډاینمـو دکـان لـري وایـي: ۳۴ کالـه وشـول چـې پـه دی کسـب کـې اخـته یـم چې دغـه مې کسـب شـوی دی کـه څـه هـم پخوامې د بغلان په فابریکـه کـې کـار کولـو خـو اوس چـې پـه دولـت کـې د چا ژونـد نـه جوړیږي نـو مـی لـه خپلـو بچیانو سره دغـه کسـب پیـل کـړی دی شـاګردان مـې وروزل او خپـل ځامن مې وروزل.

اسـتاذه د خپلـو کـارونو او ژونـد پـه هکله راته څه ووایه.

خانـدې بـس زمـوږ ژونـد خـو روان دی مـوږ هـم د لـوړو کرایـو او قیمتـی زور لـه خلکـو وباسـو او سوداګر یې هم لـه خلکـو وباسـي خـو د غریبیـار زیـات انتقـاد پـه روغتـون او ډاکترانـو دی هغـه وایـي بـدل درملونـه پـه اصـل ډبیـو کـې اچـوي پوښتنـه یـې نشـته داکتران هر یـو د خپلـی دواخـانی نسـخه لیکـي او داسې یې لیکي چې نـور څـوك پـدې نـه پوهیږي او په څنګ کـې دواخـانې سـره شـریك وي د قیمـت پوښتنه یې هم څوك نشـي کـولای ډیـر ډاکتران هم شته چې رسـمي وظیفـي نـه لري په سرایونو کې پـټ اوسـیږي پـه سپین کاغـذ نسـخه ورکـوي دغـه راز د فیس پوښتنـه نشـته هـر ډول چـې نـاروغ حـلال کـړی حلالـوی یې شي.

خه ليدلي خه اوريدلي

قابلد

مونږ که ووايو چې له جګړو راوتلي يو خو سمه نه ده ځکه چې اوس هم جګړې روانې دي او وروسته پاتې هم يو نو چې هم جګړې وي وروسته پاتې والی هم وي زورزياتی هم وي او له پيسو ټولولو سره مينه هم وي قانون هم خپله اغيزه له لاسه ورکړي وي خپل سري به خامخا اوج ته ځان رسوي همدا وجه ده چې نن سبا په ټولنه کې زياتی ناخوالی موجود دي مشران يې ښه په خپله غټو غټو سترګي وينې ترې خبريږي خلك يې ورته وايي. بس د حل لارو چارو سر خوړلی دی.

ځينې خو داسې انتقادونه دي چې امکانات يې نشته خو ځينې يې داسي دي که مسوول چارواکي ورته لږ دا خپل د غوښی زړه وسوځوي حليدای شي.

نن سبا چې دوه کسه سره کيني خبرې ورو ورو په احساسوي که د خلکو ناری سورې تر اسمانه ورسيږي ددوی غوږونه يې اوريدلی نشي خير په هر ترتيب دا هر څه د يوې وروسته پاتی او جنګ ځپلی ټولنې ځانګړتياوی وي.

خو مطبوعات هم له خپل دولت راځي او هر يو له دولت څخه سرټکوي ځيني مسوولين د پرتو ستونزو په برخه کې چې ورپورې ارتباط هم ولري ځانونه ناګاره کوي چې ګڼی مونږ خو خبر نه يو او هيڅ نشته او ځيني خو داسې دي چې ځان بې مسوولیته رسالت څخه ځان ګوښه کولای نشي وايي چې دمول يې پر ملا دی او ببنسل يې په خدای دی زمونږ له لاسه څه کيدای شي يوازې داچې په پرتو انتقادونو مسوولين خبر کړو، څه چې په ولس او سرچوك کې د دولت په هکله ويل کيږي د لږ شاته وګوری چې خلك څه وايي يو ګام مخته او دوه ګامونه شاته وګوری او که نه خپله جاله به په خپله لاسه ډوبه کړی. ټول به په په کې غرق شو.

له همدې امله مونږ دارادې په ورځپاڼه کې يو وخت انتقادي مخ درلود په هغه مسوولينو تر غوږ يې ورسوو د سر چوك په اواز يې غوږونه خلاص کړو او په دې يې پوه او خبر کړو چې ای ددې نوی دولت چارواکو! لږ ځان وښوروی چې دنيا څو بغری ده تاسو خو په خپله لاړه روان ياست کې مو د «خه ليدلي خه اوريدلي» په نامه د خلکو ستونزې خپرولی، خو له ځنډ وروسته دادی بيا د څه ليدلي څه اوريدلي تر کليشې لاندې د ورځپاڼې په وروستی مخ کې انتقادي مطالب د **ولس** ستونزې او د سرچوك اوازې او کارتونونه خپروو.

د هيوادوالو او دخپلو چارواکو په وړاندې يې ږدو په دې هيله يو چې زمونږ دغه مخ وګرای شي د خپلې ټولنې د عينې ناخوالو او د هيوادوالو د معقولو انتقادونو د حل په لاره کې د مسوولو او اړوندو ادارو له خوا ګامونه پورته شي. ډير داسې انتقادونه شته چې مسوولين ترې خبر نه وي ډير داسې دي چې اوس مهال يې د حل لارې وجود ونه لري خو خلکو ته قناعت ورکړل شوی نه وي مونږ په دې مخ کې زيا وباسو داسې ليکنې په بيلابيلو لهجو او لارو سره وړاندې کړو چې يا په عيني ډول موجود وي او يا خو يې رامنځه کيدو په هکله د خلکو تر منځ انګازې بې له کوم ماخذه او چينل څخه رامنځته شوی وي.

د ولسي جرګې د لسو کميسيونونو ...

د افغانستان د ولسي جرګې غړو ددو ورځو را په دې خوا د ۱۸ کميسيونونو د منشيانو او مرستيا لاسو د تاکلو په سر خپرې ارتې پيل کړې دي چې د يکشنبې په ورځې تر غرمې پورې يوازې د لسو کميسيونونو د اداري پلاوې په سر جرګه څه نا څه جوړ جاړې ته ورسيده د لسو کميسيونونو له ډلې استاد رسول سياف د بهرنيو اړيکو د رئيس او استاد برهان الدين رباني د تقنيني چارو د کميسيون د رئيس په توګه وټاکل دغه راز په ټوله ولسي جرګه کې يوازې يوه ميرمن سامعه خوګيانې په دې بريالی شوه چې د ښځو د کميسيون مشره شي د نومورې جوړو شوي کميسيونو پر سر وکيلان بيلا بيل نظرونه لرې يو شمير وکيلان پرې راضي او يو شمير بيا ناراضه دي. تاکل شوی ده چې ولسي جرګه به د ۱۸ جرګه ګيو کې د مشرتابه له تاګلو وروسته خپلې سياسي چارې پرمخ بوځي دا چې د جرګه ګيو لومړيتوبونه به څه وي او لومړی به کومې چارې پرمخ بيايي وروسته به په واګه شي.

قاض حسين احمد او مولانا فضل الرحمن ...

مولانا قاضي حسين احمد او مولانا فضل الرحمن پرون په لاهور او اسلام اباد کې نيول شوي دي د دولت مخالف ايتلاف متحده عمل له شپږو مذهبي او سياسي ګوندونو جوړ شوی دی چې مشري يې هم دا دواړه مذهبي مشران کوي قاضی حسين احمد د پاکستان د اسلامي جمعيت او مولانا فضل الرحمن د اسلامي علماوود جمعيت ګوند مشري کوي.

کشف گور دسته جمعی در...

مردم محل در شهر فیض آباد می گویند آنها در زمان جنگ های داخلی شاهد قتل افراد غیر نظامی بوده اند ولی این که جسدهای موجود در این گور دسته جمعی از چه زمانی برجا مانده است، تا حالا روشن نیست. گفته می شود این افراد در گذشته با یک قوماندان محلی در بدخشان مخالفت داشته اند. مسئولان امنیتی در بدخشان تا حالا در این مورد ابراز نظر نکرده اند. در طول نزدیک به سی سال جنگ داخلی هزاران نفر به گونه های مختلف کشته شده اند. تا بحال در چندین مورد، خبر از کشف گورهای دسته جمعی منتشر شده است ولی به نظر می رسد هنوز موارد زیادی در این زمینه افشا ناشده باقیست. روز گذشته نیز گزارش های از کشف چهار جسد در ولایت شمالی فاریاب منتشر شد که به گفته مقامات، قربانیان به شکل فجیع به قتل رسیده بودند. مسئولان حقوق بشر همواره موجودیت اسلحه را در اختیار قوماندانان محلی و افراد غیر مسئول، دلیل عمده کشتارهایی از این دست در مناطق دور افتاده افغانستان می دانند.

ادعا وزیر داخله ...

درمورد ادعا وزیر داخله پاکستان مبنی بر ورود اسلحه قاچاق ازافغانستان به بلوچستان مشاوررئیس جمهوردراموربین المللی گفت این ادعا ها میرساند که پاکستان نمیخواهد با افغانستان درپی گیری مبارزه با هراس افگنی شرکت داشته باشد وبه بهانه متوصل میشود.

افغانستان دست دوستی پیش میکند ...

پاکستان باقیافه یی که بیشتر به یک (رفیق کاروان وشریک دزد) شباهت دارد، هرچند حدود هفتاد هزار سپاهش را درسرحدات وحوالی این خطه مستقر کرده، ولی به بهانهء عدم کنترول برآن، ناظر بزرگترین فجایع قرن درینجاست ونمیخواهد با خارج شدن ازین موقف به میزان دریافتهایش از امریکا صدمه بزند.

واما ائتلاف بین المللی امریکا درافغانستان درین میان به آن شکارچی ناشی میماند که خریطهء مرمی هایش را گم کرده باشد وبا مرمیهای اندکی که دردسترس دارد، میخواهد از پس گردنه گاهگاهی بدانجا تیر اندازی کند؛ واکنش دیروز مقام پاکستان، علی القاعده آقای کرزی رابايد برانگیخته باشد که طرح های دیگر را ارایه بدهد، اولی تر اینکه طرح یکطرفه ساختن درمورد وزیرستان مرکز امپراتوری بن لادن، باید مشمول این پیشنهادها قرار گیرد، زیرا برمبنای ادعای پاکستان آنکشور برآنجا کنترول ندارد وازدسترس افغانستان نیز خارج است، پس بهتر است تأمین امنیت وکنترول برین قلمرو باید درسطح بین المللی مورد بازبینی وتعمق قرار گیرد.

درغیر آن معلوم نیست، دموکراسی رشد یابندهء امروز، تاچه وقت میتواند چنین قلمرو بی قانون وپر از شبکه مافیا را در زیر بیرق بن لادن بپذیرد؟!

سیاست

او دروغ

محمد زبير ((شفيقی))

د پاکستان په مشهوره اردو ژبې ورځپاڼه ((جنګ)) کې ددغه هيواد د يوه نوماند ليکوال عبد القادر حسن د يوې ليکنې سرليك دی چې له سياست بازی څخه هيڅوك ځان نشي ژغورلی ليکوال خبره د اروابناد ولي خان په وفات پيلوي او د نومورې سياسي دريځ ستايي چې هيڅ وخت او د هيڅا په وړاندې يې بدل نه کړ او تر پايه پر خپل دريځ او موقف ولاړ پاتې شو، ورپسې د پنجاب د يوه پوهنتون والي يادونه کوي چې څرنګه يې وخت پر وخت کله يوه ګوند او کله بل او کله کوم پوځي جنرال ته ګونډه وهله او دوخت پر نرخ ډوډی يې عادت و.

د کالم ليکوال د خپلې ليکنې په پای کې هغه د اسماعيل شاهد خبره يوه د نوټ کولو خبره کوي وايي چې څرنګه يې وخت پر وخت کله يوه ګوند او کله بل او کله کوم پوځي جنرال ته ګونډه وهله او دوخت پر نرخ ډوډی يې عادت و.

يا زه نه وای يا زه ... !!

دولتانه ځواب ورکوي چې: ((نه، زه که داسې يادښتونه ليکم نو په ډيرو دروغ ليکلو به اړ شم، تاسو بايد و پوهيږي چې په سياست کې دروغ ډير ارزښت لري او ما دومره ډير دروغ ويلي دي چې د نورو ويلو حوصله نه لرم، ستا وړانديز پر ځای دی خو زما معذرت ومنه!)) بايد ووايو چې دا يوازې د پاکستان له يوه ستر سياسي کرکټر ممتاز محمد خان دولتانه غوښتنه وکړه چې خپل يادښتونه وليکي په دې ډول به د پاکستان د سياسي تاريخ يو ستر باب خوندي شي.

لکه نن چې زمونږ د کشرانو ((تيټ رتبه)) مامورينو د تنخواه چاره ناشونې غوندې ده شي او نه يې چاره کيدای شي، لکه دا نن چې زمونږ د اداري فساد چاره ناشونې غوندې ده، همدغسې د چارواکو او سياستوالو د دروغو وعدې او لاپې شاپې دواخله.

يوه پاکستاني سياسي کرکټر خبره او ستونزه نه ده، په ربښتيا چې سياستوال او يا به مجموع کې د واك پر کرسيو ناست يارانو ډير ځله په دروغو ويلو اړ وي، ددوی دا مجبوري دومره زياته ده چې نه انکار ترې کيدای شي او نه يې چاره کيدای شي، لکه دا نن چې زمونږ د اداري فساد چاره ناشونې غوندې ده، همدغسې د لويانو ددروغو خبره ده، که ووايو چې دا هر څه سره ترلې دي، يانې دا د اولس بده ورځ، دا د عامو مامورينو د ژوندانه ستونزې او د لويانو دروغ ژمنې او لاپې شاپې، سره ترلې دي، پر کوم ورځ چې د يوه لوری ستونزې لري شوې بل لوری به ددروغو له عذابه ژغورلی وي.

پر دې سربيره په دې يې هم شك نشته چې ربښتيا يو ارځښت دی، ربښتينو يو داسې ويار او کمال دی چې انکار ترې ممکن نه دی، خو کله کله د سعدي شيرازي په وينا دروغ تر ربښتيا غوره شي، د ټولنې ربښتينې ځيره دومره بدرنګه او دومره ستوغه شي چې تر رالوځيدو يې پتيدل غوره وي، د لوړو خيالونو او ژورو فکرونو خاوند ستر ليکوال اروابناد استاد ګل پاچا الفت په وينا:

نه ومه خبر پرده می لږ غوندې چې جګه کړه
نه دي د ويلو هغه څه چې مالیدلي دي
په هر صورت وروستی هيله مو داده چې خدای دې ټولنه له داسې حالته وساتي، که سياستوال او چارواکي دروغ ووايي، که عام اولس ناخولې وګالي، دا د دنيا د ژوند دود دی، دومره ګرانه نه ده خو که خدی مه کړه د ټولنې خبره دومره سخته شي چې څوك يې يادولای او رالوخولای نشي، سترګې يې د ربښتينې بڼې د ليدلو او ذهن يې د اټکل توان نه لري، دا بيا د بربادی او ورکيدو وروستی پړاو دی، خدای دې وکړي چې مورږ داسې نه وو او خبره تر هغه پړاو ولاړه نشي.

آمين

زيرنظر هيات تحرير انتشار مييابد
موسس وصاحب امتياز: حاجی سيد داؤد
مدير مسوول: سهراب ديدار
اراده در ويرايش و پيرايش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مينه (ايستگاه سينمای بهارستان سرک مسجد حاجی مير احمد خانه نمبر ۹۵)
موبايل: ۰۷۰۲۲۲۷۲۶
روزنامه آزاد وملی نشريه مرکزنشراتی افغان
انديشه وعقايد مطرح شده ازسوی نويسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز و ديزاين: انجينير محمد جميل "اميری" و سبحان الله "داودزی"
چاپ: مطبعه مرکزنشراتی افغان
قيمت يك شماره ۳ افغانی

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Center
Founder: Haji Sayed Daud, Chief Editor:Suhrab Didar (Mobil phone :070222726)
eradadaily@yahoo.com
eradadaily@hotmail.com